انجنیرسید عبدالقادر ۲۰۱۰/۸/۱۹

# دخپلواکۍ ۹۱ یمه کالیزه د امریکایي اشغال په ۹ کلن درشل کي !

وطنوالو !

هره سیمه د وطن زموږ وطن دي — پکتیکا که کندهار که قطغن دي
ټول قومونه دلته ژوند کړي لکه ورونه — که پښتون دي که تاجک که ترکمن دي
هیڅ یو تر بل بهتره نه دي دلته — ځکه ټولو اوبه کړي دا چمن دي
دنفاق آواز که څوک دلته راباسي
دغه زموږ دافغانانو ګډ دښمن دي

د برتانوي استعمار څخه د افغانستان د خپلواکۍ اخیستل، د یوه داسي مدبر او پر آزادي مین ځوان پاچا امان الله خان تر مستقیمي لارښووني او قوماندي لاندي، اوهم زموږ پر وطن مینو پلرونو او نیکونو په بي ساري قربانیو سره، زموږ د وطن د پرمختګ او د افغان ولس د هوسا ژوند د برابرولو له پاره د تاریخ یوه نوي پاڼه راواړه وله۰ ځکه نو هر ریښتني افغان په دي ویاړیږي، او دا حق لري، چې د خپل وطن هغه ریښتیني خپلواکي د وطن د ننه او بهرکي د زړه له کومي د خوښي او ولولو څخه په ډکو غونډو کي ولمانځي. ولي متاسفانه د خپلواکۍ تر اخیستلو وروسته د انګلیسي دولت سره د افغانستان د متقابل احترام پر نړیوالو اصولو ولاړو اړیکو رسمي پیژندني بیا هم ونه کړایسوای چې د سره انګلیس توطیو ته د پاي ټکي کښیږدي. ځکه نو د اماني دولت د پرمختګ د هر پلان په وړاندي برتانوي استعمارچیانو د خپلو انګلیسي او افغاني اجنټانو په ذریعه په پټه او ښکاره په مختلیفو بڼو خنډونه جوړول، او رامنځ ته کول یي. څو نیژدي دلسو کلونو په موده کي برتانوي استعمار وکړایسواي چې دا ځوان پرخپلواکي مین دولت په خپلو غیر مستقیمو توطیوو محاصره او راچپه کړي. چې دا ټول واقعیتونه د افغانستان تاریخ په خپلو پاڼو کښي له ځانه سره د خپلو نوي نسلونو له پاره ساتلی دي. چې دا نوي نسلونه بیا د تاریخ دهم دې پیښو په نظر کي نیولو سره، په راتلونکو وختونو کي د خپل ولس د پرمختګ او د پردو څخه د خپل وطن د هر اړخیزي ساتني له پاره ګټه واخلي.
اوس نو داسي اساسي سوال رامنځ ته کیږي، چې آیا په اوس مهال کي د افغانانو له پاره ښایي، چې د خپلواکي دغه ۹۱ یمه کالیزه په شاندارو مراسمو باندي بي له دې څخه چې د افغانستان پراوسني امریکایي اشغال باندي خپل تر منځ نظرونه وړاندي، تبادله او د حل د سیاسي لاري وړاندیز وکړي، ولمانځي؟ دا ځکه چې نیژدي د نهو کلونو راهیسي پر افغانستان باندي د امریکا او انګلیس تر رهبري لاندي نیژدي د۴۴ هیوادونو له خواه په نوي بڼه داسي وحشتناکه یرغل سوي دي، چې په یقیني ډول سره به د۲۱ مې پیړي راتلونکي تاریخ به بل داسي یرغل له ځانه سره ونه لري. دا ځکه چې تر اوسه پوري دغه یرغلګرو هیوادونو ته د افغان بي ګناه ولس په وړاندي، داسي کومه توجیه په لاس نه ده ورغلي، چې د دوي دغه وحشتناکه اشغال ته چې په ۹ کلن درشل کی قرار لري، لږ تر لږه یوه حقوقي بڼه او جواز ورکړي، ځکه نو په هغه وخت کي :
«کوفی عنان» د م ، م مخکنی سرمنشی په دی باندی چه امریکا حق نلری چه د موجوده کړکیچ په ګټی اخیستنی سره د طالبانو حکومت چه د امریکا د اقتصادی پروژی (پایپ لاین) سره په مخالف دریځ کی واقع شویدی، لنګ کړی، تینګار وکړ.
او هم : کوفی عنان د سپتامبر په ۲۴، عمومی اسامبلی ته د خپل کلنی راپور د وړاندی کولو په ترځ کی وویل چه امریکا ته د نویارک د پیښی له کبله رارسیدلی تاوان، دا حق نه ورکوی چه د تروریزم سره د مقابلی په پلمه په هر عمل لاس پوری کړی. دی د « ای، بی، سی » په یوه تلویزیونی پروګرام کی د یوه امریکایی خبریال « دیان سویر» د یو سوال په ځواب کی وویل : « ... د م ، م مخکنی پریکړه طالبانو دیته اړکوی چه بن لادن م ، م ته تسلیم کړی. که طالبانو دغه غوښتنی ته هرکلی نه وایی تر تعزیراتو لاندی به راشی. اما د سیاسی نظام بدلون د افغانانو کار دی نه د بهرنیو قوتونو».
په داسي حال کي چې د ۹ کلونو د اشغال په دې درشل کي د امریکا تر رهبري لاندي د ائتلاف او د ناټو ځواکونو افغان بي ګناه ولس د ( تروریزم او مخدره موادو پرضد ) د مبارزي تر نامه لاندي دونه ځورولي او ټکولي دي، چې په پایله کي یي دادي بیا د میوند د جنګ په څیر د وطن په مختلیفو ګوټونو کښی د قهرماني ملالي غوندي پر وطن مینو میرمنو د خپلو خلګو ترځنګ د وطن اوعزت د ساتلو له پاره دغلیمانو پرمخ وردانګل. چې ژوندي مثال یي د فبروري د میاشتي په دوهمه هفته کي د نادعلي او مارجي پر سیمو باندي د یرغلي ځواکونو د وحشت څخه د ډکو بمباریو په لیدو سره قهرمانه ( شهیده عابده ) خپل افغاني احساس ودې ته وهڅه وله، چې دغلیم په وړاندي د خپل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

وطن د دفاع له پاره خپل ډک ټوپک خالي کړي، چې وروسته داهم د غلیمانو له خواه په شهادت ورسیدله. دا هغه واقعیتونه دي چې هره ورځ د یرغلی ځواکونو او افغانی ګوډاګي واکمنانو ومخ ته تیریږی.
ولي د خوښې ځاي دادي، چې د افغان ولس د۹ کلونو دبې ساري مقاومت پایلو دغربي نړي ولسونه هم راويښ ،او په دې واقعیتونو باندې خبرکړل ،چې ستاسو بې رحمه واکمنان زموږ په وطن کې دتروریزم سره دجنګ ترنامه لاندی کومې مخې مخ ته بیایي. ځکه نو دوي په دې وطن کښې دواقعیتونو په لیدو او اوریدو سره هغه ولسونو هم دخپلو واکمنانو په وړاندې سیاسي فشارونه رامنځ ته کړي، اود افغانستان ددې نا معلومو مخو دجنګ څخه دخپلو عسکرو دراستنیدو جدي غوښتنه کړی ده. اوخپل واکمنان يې دداسې سیاسي ستونځو سره مخامخ کړی دی، چې په پایله کې يې دادي په ځینو هیوادونو کی یې حکومتونه دړنګیدوسره مخامخ کړي، اوځیني يې ړنګ سوي هم دي.
ځکه نوپه دې اړوند ضرور ده چې د اوباما سره د جمهوري خواهانو یوه کاندید، دکانګریس غړي او لوي سیاست وال ډاکټر( ران پاول) دهغه دوینا لږ څه لیکلي برخه چې دجولای پر ۳ یمه دامریکا په کانګریس کې واورول رانقل کړم ، دوینا په یوه برخه کې يې داسي ویلي دي :
زموږ مشرانو پر عراق باندی د حملې لپاره موږ ته درواغ ویل او د افغانستان د نیولو لپاره يې موږ خطاایستلو. او داسي مخ ته ځي :
وګورئ کانګریس لکه زموږ اساسی قانون چې یې ایجابوی، جنګ نه دی اعلان کړی، او دا یو حقیقت دی . خو زموږ ولسمشرانو او کانګریس او خلکو هیڅا هم پر دغه کار اعتراض نه دی کړی. دا لا څه، کانګریس په اطاعت سره ټولی هغه پیسي هم منظوروی چې د دې جنګ لپاره غوښتل کیږی.
نسانان وژل کیږی، بمونه اچول کیږی، زموږ پوځیان وژل کیږی او وژل کوی. دوینا په بله برخه کې بیا دواقعیتونو په ویلو سره داسي مخ ته ځي :
همدا نن د عراق حکومت زموږ دی کټ مټ لکه افغانستان چې زموږ دی. په افغانستان کی موږ د طالبانو یعنی هغو کسانو سره جنګیږو چې خطرناک دي او په خپلو وسلو سره د خپل هېواد د دفاع لپاره راسره جنګیږی. آیا موږ ته نن د دې جنګ د پراخولو په حصه کی یو ځل بیا هغسی درواغ نه ویل کیږی لکه په ۱۹۶۰ لسیزه کی چې د ویتنام د جنګ د پراخولو پر مهال راته ویل کېدل ؟
اودوینا په وروستي برخه کې يې بیا يې داسي ویلي دي :
هو، دا واضح ده چې په افغانستان کی پوځی ماتې زموږ په برخه ده. د تګلارې یا تګلارې جوړونکو د بدلون څخه پرته یوازی د جنرالانو بدلون زموږ مصیبت نور هم همیشنۍ کوی او صرف هغه څه ځنډوی چې هرومرو پېښېدونکۍ دئ. لویه غمیزه لا دا چې دا جګړه زموږ خپل پر ضد ده، زموږ د ارزښتونو پر ضد ده، زموږ د اساسی قانون پر ضد ده، زموږ د مالی جوړښت پر ضد ده او باالاخره زموږ د سلیم عقل پر ضد ده. او په کومه طریقه یا اندازه چې اوس موږ پکښی دخیل یو، انجام به يې ډیر بد او ناوړه وی
و یوازینۍ هغه څه چې موږ ورته اړ یو، صادق او پاک مشران دي چې ښه ځانګړتیا او یوه نوي بهرنی تګلاره ولری او بس. دپورتنیو واقعیتونو په نظر کي نیولو سره که دیوه لوري دافغانستان دجنګ په وړاندي دغربي نړي د سیاست والو نظرونه په ډیره چټکي دتغیر پر لور روان دي، او هغه واقعیتونو ته ځانونه نیژدي کوي ، کوم چې ولسونه يې غواړي. ولی دبل لوري نه څوهفتې مخکې دغربي نړي ځیني اشخاصو لکه (په هند کي دامریکا پخواني سفیر رابرت بلیک ویل او په افغانستان کښي دیونما پخواني معاون پیتر ګالبرایت ) په افغانستان کي دامریکا دکامیابي له پاره په ډیره بې شرمي دافغانستان دتجزیي وړاندیز مخ ته کړي. دي ځکه نو ضرور ده ددغسي سخت سیاسي کړکیچ په شتون کې، هغه ملي او ډموکراټیک ګوندونه او یو شمیر آزاد سیاسي کارپوهان او نور روشنفکران چې تر اوسه پوري يي په یوه اوبله بهانه ددې ناخوالو په وړاندي چپتیا غوره کړي وه، باید راويښ سي، اودغه حساسي سیاسي سختي شیبي چې زموږ جنګ ځپلي ولس ور سره مخامخ دي، په دقت سره درک کړي، اودافغانستان دملي ګټو په نظر کې نیولو سره لومړي باید دافغانستان دتجزیي دخاینانه وړاندیز په وړاندي خپل سیاسي جدي عکس العملونه ښکاره کړي. اوهم دا ملي او ډموکراټیک ګوندونه باید نه یوازي دافغانستان ددې ۹ کلن اشغال په وړاندي خپل دریځ دولس په وړاندي ښکاره کړي ، بلکه ددې امریکایي اشغال دژر تر ژره پاي ته رسیدو له پاره باید خپل ترمنځ دډیر ژرتفاهم په نتیجه کي د افغانستان داوسني کشالي د سیاسي حل له پاره د داسي یو میکانیزم وړاندیز رامخ ته کړي، چې دافغانستان دملي ګټو په نظر کې نیولو سره دجنګ دواړو خواوته دقبول وړ وي. او دا وړاندیز باید دجنګ دواړو لورو ته او هم ملګرو ملتونود سر منشي پر ادرس ورولیږل سي. که داملي او ډموکراټیک ګوندونه د دې لویي ملي وجیبي څخه ځانونه په یوه او بله بهانه لیري وساتي، او دپردیو غوندی د ناظرینو په څیر یوازي ددې امریکایي تراژیدي سریال تماشا وکړي، دابه نونه یوازي په تاریخ کي دولس په وړاندي لویه جفا وبلل سي ، بلکه دولس له خواه به په واقعیت کي په جرم کي شریک هم وبلل سي. تمت باالخیر
اخځ : د لراو بر ویب پاڼه او د بینوا ویب پاڼه٠
: په افغانستان کي دجګړي حقوقي بنسټ ( دمحترم روستا ترکي ) لیکنه ٠


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ